**د افغانستان اسلامي امارت**

**لوړو زده کړو وزارت**

**تابش پوهنتون**

# د کریډیټ سیستم نوې لایحه

**سریزه**

د کریډیټ سیستم نن ورځ د یو مؤثر او پرمختللي سیستم په حیث د نړۍ اکثر هیوادونو کې د منلو او پلي کیدو وړ گرځیدلی دی.

د هیواد لوړې زده کړې د ښیا رغونې په جریان کې پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د علمي روابطو د پراختیا لپاره ښکاره ضرورت لیدل کیږي چې نوموړی سیستم په موفقانه ښه پلي او ستونزې یې له منځه یوړل شي.

د کریډیټ سیستم په نړیواله کچه د پلي کیدلو او د کارولو هدف دا دی چې زده کړو په بهیر کې د محصل فعالیت او ونډه ډیره وده وکړي او پیاوړی شي، د هیواد د لوړو زده کړو سیستم په نړیوالو معیارونو برابر شي؛ ځکه چې پدغه سیستم کې محصل ته ډېر سهولتونه او فرصتونه برابر دي.

په دغه سیستم کې د تکړه او با استعداده محصلینو لپاره واقعي فرصتونه، د وخت سپما او چټک پرمختګ زمینه برابره ده.

همدارنګه د محصلینو د علمي فعالیتونو لپاره دقیق معیاورنه اماده کوي، سربېره د استادانو مسؤلیتونه او فعالیتونو ډیر هدف لرونکي ګرځي چې محصلین په علمي عملي توانايي او رشد کې د اهمیت وړ ګرځي. په کریډیټ سیستم کې سهولتونه او امکانات د پوهې د زده کړې په خاطر په داسې ډول عیاریږي چې هم د وخت، طریقې او اقتصادي اهمیت له مخې د محصل توان په نظر کې نیول کیږي.

ځکه یو محصل کولای شي چې د خپل فکري، مالي توان او مناسب وخت سره خپل کریډیټ بلې علمي مؤسسې ته انتقال کړي. د ناکام شوو مضامینو امتحان ورکړي یواځې هغه مضامین به لولي چې په هغو کې ناکام پاتې دی، ټول سمستر او یا ټول کال به نه تعقیبوي. دا به هم د دواړو مربوطه علمي مؤسسو په هماهنګۍ سره تر سره شي. ضروري ده چې درسي سیستم په پخوانیو روشونو غور وشي او یواځې په درسي کتاب اتکاء له منځه لاړه شي او محصلین اضافي مطالعې ته و هڅول شي.

باید په ټولو ډیپارټمنټونو کې د ارزیابۍ او څارنې منظم سیستم فعال شي، د درسي موادو څېړل او اضافي تدابیر د استاد د علمي فعالتونو معمول وګرځي. د علمي روابطو د تحکیم او علمي همکارۍ او هماهنګۍ په هکله باید ګټورې طریقې او کړنلارې دود شي چې زده کوونکي وکړای شي د خپل تعلمي نصاب د پوره کولو په خاطره له مختلفو انتخابونو څخه ګټه واخلي. پرته له شکه چې د دغې نوې لایحې د علمي غړو د فعالیتونو او د لوړو زده کړو په هکله د پرمختګ پر لار کې یو مؤثر قدم شمیرل کیږي او دغه لایحه د شبانه او روزانه محصلانو دواړو لپاره د تطبیق وړ ده.

**لمړۍ ماده:**

د غه لایحه د لوړو زده کړو وزارت قانون د دریېمې مادې، دولسم بند په اساس ترتیب شوې ده.

**تعریفات:**

**دویمه ماده:**

**1. کریډیټ:** امتیاز، Credit اعتبار

دا یو درسي واحد دی چې د سمستر د بیلوالي په تفکیک او همدارنګه په نصاب کې د هر مضمون په برخې سره د هغه له مخې د تحصیلي دورې نصاب تړاکل کیږي. یو کریډیټ په یوې درسي هفته کې یو (۵۰) دقیقه ساعت سره برابر دی چې په یو سمستر کې یو کریډیټ 16 درسي ساعتونو یا د هغه معادل دی چې دوه ساعته د تطبیقاتو، یا د لابرتوار عملي کار او یا درې ساعته ستاژ، ساحوي کار، کلینیکي فعالیتونه د یو درسي ساعت سره معادل دي.

**2. تحصلي کال: (Academic Year):**

یو تحصلي کال دوه سمستره کیږي.

**3. سمستر:** یو سمستر شپاړلس هفتې کیږي د تحصلي کال نیمه برخه تشکیلوي.

**4. درسي هفته: (Academic Week):** د یو کریډیټ د بشپړولو لپاره کافي موده تړاکل شوې.

5. **ضایع شوی او جبراني ساعت:** ضایع شوی ساعت هغه ساعت ته وایي چې په مختلفو اشکالو سره په هغې کې درس دایر نه شي. جبراني ساعت هغه ساعت دی چې د ضایع شوي ساعت د درس د اخیستلو لپاره دایر کیږي.

**6. اساسي مضامین (Core Courses )**

دا هغه مضامین دي چې زده کړه یې اصل رشتې ته د ورداخلیدلو لپاره لازمي ګڼل کیږي او د اصلي مضامینو بنسټ تشکیلوي.

**7. حتمي تخصصي مضامین (Compulsory Professional Courses)**

د یوی رشتې ضروري حتمي او نه بدلیدونکو مضامینو ته ویل کیږي چې په ځینو پوهنتونونو کې اصلي رشته تشکیلوي.

**8. اختیاري مضامین (Elective Courses)**

هغو مضامینو ته ویل کیږي چې د محصل له رشتې سره اړیکه لري او د څو انتخابي مضامینو څخه یو یا څو مضامین انتخابوي او د پوهنځیو پواسطه په تحصیلي پروګرام کې ځای پرځای شوي وي. همدارنګه اختیاري مضامین ډیپارټمنټ تعینوی او د علمي شورا له تائید څخه وروسته عملي کیږي.

**9. پوهنتون شموله مضامین (Univesity Courses)**

عبارت له هغو مضامینو څخه دي چې د ټولو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو په پوهنځیو کې تدریسیږي لکه (اسلامي ثقافت، معاصر تاریخ، بهرنۍ ژبې(عربي ، انګلیسي...) چاپیریال ساتنه او کمپوټر؛ خو د سپورت مضمون څخه پرته مسلکي پوهنځیو کې اختیاري دي.

**10. مخ اړ (پیش شرط) مضامین یا (Pre requisite subjects)**

هغه مضامین دي چې تعقیب یې د راتلونکي ارتباطي مضامینو لپاره مخکې ډیر ضروري لکه د بیو شیمي مضمون لپاره د کیمیا او بیولوژي لوستل مخ اړ (پیش شرط) مضامین دي.

**11. کوډ نمبر(Code No)**

هغه سمبول یا لنډه نښه ده چې یو شمیر اعدادو او حروفو څخه جوړشوی وي چې د هرمضمون د پیژندلو او له ډیپارټمنټ -پوهنځي او تړاکلي مضمون سره د هغه اړیکه ښیي.

د هر تحصیلي کال دوه سمستره دي او هر سمستر له ازموینو پرته شپاړلس (١٦) درسي اونۍ، پدې اساس یو کریډیټ برابر دی له شپاړلس (50) دقیقې درسي ساعتونو سره.

دوه ساعته تطبیقات او یا لابراتوار او یا درې ساعته ستاژ یا ساحوي کار د یو درسي ساعت معادل دی.

اساسي، تخصصي اختیاري او پوهنتو شمول مضمونونه، د کریډیت او کود نمبر سمستر، همدارنګه مونو ګراف ډیپلوم او سیمینار په پوهنیز پلان کې ځای لري.

**اساسات:**

**دریمه ماده:** د افغانستان د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د لسانس دوره په اوسط ډول څلور کاله ده او د ماسټرۍ دوره یونیم تر دوه کاله ده، یو محصل کولای شي چې نوموړې دورې مخکې یا وروسته هم بشپړې کړي.

٢: د طبي او تخنیکي پوهنځیو تحصیلي کلونه د درسي نصاب له پشړولو وروسته ټاکل کیږي.

**څلورمه ماده:**

د لسانس په دوره کې د کریډیټونو شمېر کم تر کمه 136 کریډیټ او زیات نه زیات د تحصیلې دورې په اوږد والي پورې تړلې ده، البته په یوسمستر کې باید د 21 کریډټو څخه زیات نشي.

**پنځمه ماده:**

د لسانس دورې مضامین په اساسي تخصصي، اختیاري او پوهنتون شمول مضامینو تقسیم شویدي. اساسي مضامین باید حد اکثر 30% تخصصي مضامین حد اقل %50 اختیاري او پوهنتون شمول مضامین %12 مونوګراف، سمینار، ستاژ، دولتي امتحان او دیپلوم د پروژې تکمیل %8 د لسانس دورې مضامین تشکیلوي. د پورته مضامینو نهایي نمرې له 100 څخه محاسبه کیږي او فیصدي یې د کریډیټ سیستم په تحصیلي پلان کې ځای پر ځای شویدي. (پلان تحصیلي ضمیمه شماره ١٠)[1]

**شپږمه ماده:**

د اساسي، تخصصي، اختیاري او پوهنتون شموله مضامینو د کټګورۍ فهرست برابرول او د تحصیلي نصاب تدوین د ډیپارټمنت صلاحیت دی او له علمي پروسس وروسته د اجرا وړ دی.

**اوومه ماده:**

په یوه ورځ کې یو مضمون باید له دوه ساعتونو څخه زیات ونه لوستل شي. تطبیقات استثناً په یوه ورځ کې څلور ساعته او ساحوي کار کیدای شي چې ټوله ورځ وي. هغه مضامین چې د کومو ملاحظاتو او موافقې د ډیپارټمنټ سره د بلاک (تشدیدي) په صورت کې تدریس کیږي د لمړۍ فقرې اومې مادې څخه **مستثنی ده.**

---

[1] - د پورته کټګورۍ فیصدي اوس د لوړو زده کړو وزارت د نصاب ریاست د تحصیلي نصاب د نوي رهنمود مطابق او د اسلامي ثقافت د کریډیټونو په زیاتوالي سره تغیره شوې او ترتیب یې په لاندې ډول دی:

١) مسلکي مضامین: ٥٠ ٪.

٢) اساسي مضامین : ٢٥٪.

٣) انتخابي مضامین: ٢٢٪.

۴) پایلیک (مونوګراف) ٣٪.

**اتمه ماده:**

یو مضمون به یوه اونۍ کې حد اکثر (5) کریډیټه وي. کریډیټونه په تحصیلي پلان کې مشخصېږي.

(10 شمېرې ضمیمه).

**نهمه ماده:**

۱- په یوه سمستر کې د یو محصل درسي مکلفیت له 17 کریډیټه څخه تر 21 کریډیټ دی، پرته له هغو محصلینو څخه چې ځینې مضامین پرې پاتې وي.

۲- محصل کولای شي چې په ډیپارټمنټ کې د کریډیټ د ثبت څخه دوه اونۍ وروسته د یو یا دوه مضمونونو څخه صرف نظر و کړي، په دې شرط چې د کریډیټونو مجموعه یې په اونۍ کې له 17 کریډیټونو څخه کم نه وي. (۱۰ شمېرې ضمیمې سره مطابقت لري)

**لسمه ماده:**

استادان مکلف دي چې د هر مضمون لپاره د مضمون کورس پالیسۍ د سمستر له پیل څخه مخکې ترتیب کړي.

کورس پالیسۍ کې باید اړوند استادان عنوانونه، درسي مفردات، پروګرام، د درس د پرمخ وړلو او د ارزیابۍ طریقه او داسې نور ضروري معلومات چمتو کړي. (۳ شمېره ضمیمه)

**یولسمه ماده:**

د کورس پر مخ وړلو کې باید تر ډېره حده کوښښ وشي چې د محصل محوري فضاء رامنځته شي او د محصل فعالیت او برخه اخیستلو ته پراختیا ورکړل شي، یواځې د نوټ ورکولو څخه استفاده ونه شي، بلکه د لکچرنوټ، مناقشې، سیمینارونو عملي کارونه، لابراتوار، کورنی کار او داسې نور تر سره شي. (۳ شمېره ضمیمه)

**دولسمه ماده:**

محصل باید له لومړۍ اونۍ تر پایه د یو سمستر د ټاکل شوو کریډیټونو د کورس لپاره نوم ولیکي. هغو کورسونو ته چې باید محصل ورته په هر سمستر کې نوم ولیکي په کار ده د دې لایحې او یاهم د پوهنځي دنورو لارښودو استادانو له مخې د پوهنځي د رئیس او یا لارښود استاد په مشوره وشي.

د کریډیټ سیستم د ستونزو حلولو لپاره د پوهنځي علمي شورا لږ ترلږه شلو ۲۰ محصلینو لپاره یو لارښود استاد ټاکي او نوموړی د کار په اکاډمیکو کارونو کې حسابیږي. (۲ شمېره ضمیمه)

**دیارلسمه ماده:**

د دې لپاره چې محصل ته د اختیاري مضامینو په ټاکلو کې آسانتیا رامنځته شي ډیپارټمنټ مکلف دی چې محصل په نصاب کې د شاملو اختیاري مضامینو لیست ترتیب او د پوهنځي د علمي شورا څخه تایید او د هغه په واک کې یې ورکړي.

**څلوارلسمه ماده:**

۱- محصل کولای شي چې د تحصیلي دورې په موده کې صرف یو ځل د معقول عذر په اساس د یو کال لپاره تاجیل تر لاسه کړي. پدې صورت کې د سمستر د پیل څخه یوه اونۍ مخکې یا د سمستر د پیل په لومړۍ اونۍ کې د خپلې عریضې قانوني مرا حل ترسره کوي. د نوموړي غوښتنه هغه وخت منل کیږي چې د ډیپارټمنټ موافقه او د پوهنتون د ریاست منظوري تر لاسه کړي.

۲- که محصل د ناڅاپي پېښې په واسطه جسمي یا ذهني زیانم شي او مسلسل غیرحاضر شي او ونه شي کولای چې د حاضرۍ نصاب پوره کړي، که پوهنځي ته اړوند روغتیایي شواهد معلوم وي، د نوموړي د غیابت دوره د علمي شورا د تائید څخه وروسته د محصل لپاره په یو کلن تاجیل محاسبه کیږي.

۳- هغه محصلانې چې د حمل یا امیدوارۍ د زېږون په اساس ونه کړای شي د حاضرۍ نصاب پوره کړي، پوهنځي ته د اړوندو روغتیای شواهدو د معلومیدو په صورت کې د نوموړې دغیابت موده د پوهنځي د علمي شورا د تائید څخه وروسته په یو کلن تاجیل محاسبه کیږي.

۴- په هغه صورت کې چې د کومې حادثې له امله د دویم ځل لپاره د تاجیل غوښتنه را منځته شي پدې شرط چې د تحصیل د تعین شوې مودې څخه زیات نه شي، په هکله یې د پوهنتون علمي شورا پریکړه کوي.

**پنځلسمه ماده:**

په هره څانګه یا رشته کې د اساسي مضامینو ټاکل د ډیپارټمنټ صلاحیت دی چې د پوهنځي د علمي شورا له تائید څخه وروسته عملي کیږي.

**شپاړلسمه ماده:**

۱- هر مضومون یو کوډ نمبر لري، کوډ نمبر د پوهنځي د مضمون د انګلیسي نوم له دوو لومړیو تورو او آخري درې عددونو څخه جوړ دی چې درې آخري عددونه د مضمون او سمستر نماینده ګي کوي.
۲- کوډ نمبر د لمړني توري د مختلفو پوهنځیو د پیژندنې لپاره دی او معمولاً د پوهنځي د انګلیسي نوم د لومړیو دوو تورو څخه تشکیل شوی دی. د مثال په ډول دزراعت پوهنځي لپاره(Ag) ، د ساینس پوهنځي لپاره SC، د اقتصاد پوهنځي لپاره (Ec) د انجینیرۍ پوهنځي لپاره ((Eng) د ابیاتو لپاره (Li) ستوماتولوژي لپاره (St) او داسې نور .
۳- د کوډ اول عدد تحصیلي سمستر ښیي او د پای دوه عددونه د مضمون مخصوص کوډ نمبر ښیي.
د مثال په ډول (۲۱۱) ځانته مفهموم لري: د (۲) عدد په مفهوم د دویم سمستر او اخري عدد (۱۱) د مضمون کوډ شمیرل کیږي.
**اولسمه ماده:**

1. هر ډیپارټمنټ نظر خپلو امکاناتو ته په کتو سره په هر کال کې باید د صنف لپاره یو رهنما استاد وټاکي.
2. رهنما استاد د محصلینو د تحصلي رشتې د تعینولو مسؤلیت لري او د محصلینو د ټولو اکاډمیکو امورو مسؤلیت په غاړه لري.

**ارزیابی او امتحانات**

**اتلسمه ماده:**

د نصاب تکمیلول په هر مضمون او کورس کې حتمې دي. محصل په هغه شرط نهایي ازموینه کې شاملیږي چې د مضامینو د حاضرۍ فیصدي (۷۵) وي.

**نولسمه ماده:**

هر هغه مضمون چې تطبیقات ولري او محصل د (۲۵) فیصدۍ څخه زیاته غیر حاضري ولري؛ محصل د هغه مضمون د تطبیقاتو د نمرو څخه محرومېږي.

**شلمه ماده:**

1. په هر مضمون کې د کامیابۍ نمرې (۵۵) ټاکل شوي دي او ددې ترڅنګ به په هر سمستر کې د عمومي نمرو اوسط څخه باید (٦٠) فیصدي پوره کړي. (ضمیمه شماره ٦).
2. د نمرو اوسط په داسې ډول محاسبه کیږي چې د هر مضمون کریډیټونو تعداد د همدغه مضمون په نهایي نمرو کې ضربېږي او د مضامینو نمرو ترلاسه شوې عمومي مجموعه د همغو مضامینو د کریډیټونو په مجموعي تعداد تقسیمېږي. (ضمیمه شماره ۷)

**یوشتمه ماده:**

د مضامینو ارزیابي په لاندې تفکیک سره صورت نیسي:

1. نهایي ازموینه د ٦٠ فیصده نمرو څخه محاسبه کیږي.(ضمیمه شماره ٦)
2. صنفي ازموینه CBL و PBL ۲۰ فیصده نمرو څخه محاسبه کیږي. (ضمیمه شماره ٦)
3. تطبیقات یا عملي کار ۲۰ فیصده نمرو څخه محاسبه کیږي. (ضمیمه شماره ٦)
4. هغه مضامین چې تطبیقات یا عملي کار ته ضرورت نلري د نمرو د ارزیابۍ حد اکثر یې د ۸۰ فیصده څخه محاسبه کیږي.
5. د صنفي پروژو ارزیابي، ګرافیکي کار، ستاژ او تدریسی روزنه د اړوند پوهنځي صلاحیت دی.

**دوه ویشتمه ماده:**

1. کله چې محصل په یو او یا څو مضامینو کې چې له نیمایي کریډیټونو څخه کم وي، د کامیابۍ نمره پوره نشي کړای، نو په هغه مضمون یا مضامینو کې ناکام شمیرل کیږي او د دغو مضامینو د تکمیلولو لپاره د دوو سمسترونو د رخصتۍ په منځ کې به چانسي ازموینه ورکوي او یا به راتلونکو سمسترونو کې د تسلسل په رعایت کولو د لاندې امکاناتو څخه استفاده کوي.

الف: که چیرته په چانسي ازموینه ګډون ونه کړي/ناکام شوو؛ نو تکرار مضمون شمېرل کیږي؛ بیا به د دوه یا څلور هفتې کورس تعقیبوي نظر د هماغو مضامینو تعداد ته چې په هغې کې د کامیابۍ نمره نده اخیستې او ددې کورس په پای کې به ازموینه ورکوي.

ب: د ډیپارټمنټ لخوا ورکړل شوې وظیفه به ترسره کوي چې د دوه څخه تر څلورو هفتو د کورس محتوا سره برابر اوسي او د اماده ګۍ په پای کې به امتحان ترې اخیستل کیږي، پوهنځی به د اړوند ډیپارټمنټ په مشوره د ناکامو محصلینو د امتحان تقسیم اوقات ترتیب او د امتحان د پای څخه وروسته به د یوې هفتې په موده کې په رسمي ډول د امتحان نتایج پوهنځي ته استوي.

ج: کله چې د محصلانو شمیر له پنځه تنو څخه کم وي؛ نو د اړوند ډیپارټمنټ لخوا هغوی ته د انفرادي فعالیت مکلفیت ورکول کیږي او په یو معین وخت کې ترې ازموینه اخیستل کیږي.

د: د ازموینې اخیستل، د کورس تعقیبول او یا انفرادي کار باید د هغه سمستر له پیل څخه بشپړ شي چې محصل په کې قرار لري.

پوهنځی به د اړوند ډیپارټمنټ په مشوره د ناکامانو محصلینو تقسیم اوقات ترتیبوي او د امتحانونو د پای څخه وروسته به مربوطه ډیپارټمنټ د یوې هفتې په موده کې په رسمي ډول ټول نتایج پوهنځي ته استوي.

۲: کله چې محصل د یو سمستر نیمایي کریډیټ پوره کړي؛ نو د نمرو اوسط به یې وروسته د باقي کریډیټونو د پوره کولو څخه محاسبه کیږي.

۳: په هغه ټولو مضامنیو کې چې امتحان یې ورکړی او د کامیابۍ نمره یې ترلاسه کړیده، مګر د نمراتو اوسط یې نه وي پوره کړی، بل سمستر ته ارتقا کولای شي؛ خو کتبي اخطاریه به ورکول کیږي.

۴: کله چې محصل په یو یا څو مضامنیو کې محروم یا ناکام شو او ۵۰ فیصده کریډیټونه یې پوره کړي وي، د دویم ځل وروسته د کورس او یا انفرادي کار تکمیلولو په یو یا دوه مضامنیو کې د ناکامۍ نمره واخیسته، په ناکامو شویو مضامینو کې د دوه هفتو د اماده ګۍ په جریان به د دریم ځل لپاره یو یا دوه مضامینو کې امتحان ورکوي او کله چې د دریم ځل لپاره ناکام شوو د وروستي ځل لپاره د دوه نورو هفتو په موده کې د امتحاناتو کمېټې لخوا ورڅخه امتحان اخیستل کیږي او د ناکامۍ په صورت کې د مربوطه پوهنځي څخه په دایمي ډول منفک کیږي.

د دوه مضامینو څخه زیاته ناکامي په دویم چانس کې وروسته د کورس یا انفرادي کار د دایرولو څخه د هماغه سمستر ناکام شمېرل کیږي او ناکام شوي مضامین به د راتلونکي کال په سمستر کې تکراروي.

۵: وروستي چانسونه به یې ورته د سل نمرو د قراره محاسبه کیږي.

٦: کله چې د مضمون نهایي نتیجه د استاد له طرفه نا مکمله ورکړل شوه (یو برخه د امتحان همدارنګه صنفي امتحان، کورنۍ دنده، طبیقات یا نهایي امتحانات یې مکمل کړي نه وي) نو د دغه محصل اوسط د مجموعې د هماغه سمستر د هغه مضمون د تکمیل کیدو پورې نه محاسبه کیږي. نا مکمل شوې مضمون باید د بل سمستر د شروع پورې مکمل او راپور شي.

**د رویشتمه ماده:**

1. برحال محصل هغه وخت بل سمستر ته ارتقاء کوي چې نیمایي کریډیټ یې پوره کړي وي. په هغه صورت کې که کریډیټونه طاق وي؛ نو نیم کریډیټ د محصل په ګټه محاسبه کیږي.
2. ناکام، محروم او غایب په امتحان کې چې د یو سمستر د نیمایي کریډیټونو څخه زیات وي او محصل په کې ثبت نام کړی وي، د هماغه سمستر ناکام شمیرل کیږي. یواځې هغه مضامین چې په کې ناکام شوی دی د راتلونکي کال په عین سمستر کې به یې تعقیب کوي او د کریډیټونو اوسط به یې د سمستر د پیل له مضامینو څخه محاسبه کېږي.

**څلور ویشتمه ماده:**

دوه ځله په مسلسله توګه په یو سمستر کې ناکام کیدل په دایمې توګه د محصل د اخراج سبب ګرځي.

**پنځه ویشتمه ماده:**

محصل که په یو سمستر کې که د نمرو عمومي اوسط پوره نه کړ؛ نو په اول ځل ورته شفاهي اخطاریه ورکول کیږي او نتایجو په جدول کې به ثبت کیږي، که په په دویم ځل لپاره پرلپسې ډول بل سمستر کې بیا هم عمومي اوسط پوره نه کړي؛ نو کتبي اخطاریه ورکول کیږي او د تدریسي مدیریت لخوا به د نتایجو په جدول کې ثبت کیږي او د محصل څخه به کتبي تعهد اخیستل کیږي. که چیرته د دریم ځل لپاره په پرلپسې توګه په بل سمستر کې بیاهم اوسط پوره نه کړه؛ نو د دایم لپاره اخراج کیږي.

**شپږ ویشتمه ماده:**

هغه پوهنځي چې تحصيلي دوره يې څلور کاله ده، تر دوو کلونو زيات او هغه پوهنځي چې تر څلورو کلونو زيات وي، تر دريو کلونو نشي زياتېدی. هغه محصلان چې په ټاکل شوې موده کې خپله تحصيلي دوه په اړوند پوهنځي کې بشپړه نه کړای شي، په دايمي ډول له پوهنتون څخه منفک کېږي.

د لوړوزده کړو په حد اکثر دورده کې تاجيل نه محاسبه کيږي.

**وويشتمه ماده:**

د نمراتو کاميابي د A څخه تر D پورې په لاندې ډول محاسبه کيږي:

A (۹۰-۱۰۰)

B (۸۹_۸۰)

C (۷۹_۷۰)

D (٦۹_۵۵)

د ۵۵ څخه کمې نمرې اخيستل ناکام شمېرل کيږي او په F سره نښه کيږي (۹ شماره ضميمه).

**اته ويشتمه ماده:**

هغه محصلين چې لايق او پوه وي په هغه صورت کې کولا شي خپله تحصيلي دوره مخکې د ټاکل شوې مودې څخه بشپړه کړي، پدې شرط چې د تحصيلې دورې لپاره کوم کريډيټونه ټاکل شوي، هغه پوره کړي او پوهنځی به يې په جلا توگه ذکر شويو اسنادو باندې اجرات وکړي.

**نه ويشتمه ماده:**

هغه موضوعات چې په دې لايحه کې پيشبيني شوي ونه وي، د پوهنتون علمي شورا صلاحيت لري چې تصميم پکې ونيسي او د لوړوزده کړو وزارت څخه يې تائيد کړي.

**دېرشمه ماده:**

د ټاکل شوو ثبت شوو مواردو لپاره، معقوله مستند سازي بابد وشي، په دې لايحه کې فورمونه په لاندې ډول ضميمه شوي دي چې د محصلانو مديريت د اجرأت لپاره ترې استفاده کولاې شي.

- ۱ ضميمه : د جديد الشمولانو فورم او محصلينو د تعهد فورم.
- ۲ ضميمه: د سمستر په جريان کې د مضامينو د انتخاب فورم.
- ۳ ضميمه : د کورس پاليسي، مفردات، او د يو سمستر لپاره چې کوم فعاليتونه په نظر کې نيول شوي.
- ۴ ضميمه: د مياشتنۍ حاضرۍ جدول.
- ۵ ضميمه: د ليلې د شموليت فورم.
- ٦ ضميمه: د امتحاناتو شقه.
- ۷ ضميمه: د نتايجو جدول.
- ۸ ضميمه: د محصل تحصيلي فعاليتونو فورمونه.
- ۹ ضميمه: د ترانسکرپټ جدول.

- ۱۰ ضمیمه: د کریډیټ سیستم تحصیلي پلان فورم.

**یو دېرشمه ماده:**

دغه لایحه د یوه مقدمه، یو دېرش مادې او لس ضمیمې لري چې وروسته د لوړوزده کړو وزارت د رهبري شورا د تایید څخه د تطبیق وړده.
د کرېډېټ پورتنۍ لایحې پښتو ژباړه د پوهنتون د پلان و پالیسی کمېټې په (____________) او د پوهنتون د علمي شورا په(____________) ګڼه پروتوکول کې تائید او د تطبیق وړ ګڼل شوې ده.

**د علمي شورا مشر لاسلیک**